# په ژبه کښې د مورفو فونيميکي بدلونونو د منځته راتګ لاملونه

# The causes of morphophonemic changes in the language

Fazul Rehman Muhazub Alizai*

**Abstract**

Language is a social phenomenon, which came to existent in a contractual manner among members of the society, in order to communicate with each other and solve their problems.

Morphemes in a language change based on their environment or some other reasons, which linguists call it morphophonemic changes which are different in types. It is an interesting discussion in the history of language evolution.

This article is a research about morphophonemic changes in the language and the nature of these changes with various examples

**Keywords:**Language, Society, Morphemes , evolution , morphophonemic

## سريزه

په نړۍ کښې بېلابېل ميلتونه ژوند کوي او د مختلفو کلتورونو لرونکې دي، نو د همدې ژبې په وسيله له نورو انسانانو سره پېژند ګلوۍ تر لاسه کوي او د ژبې په وسيله يو له بل سره پېژني، يو د بل له کلتوري او فرهنګي مسائلو يا د ژوند له طرز او تفکر څخه خبرېږي. د ژبې د ارزښت او اهميت په اړه د بېلابېلو مسلکونو پوهانو او څېړونکو څېړنې کړې دي او ژبه ئې د انسانانو په ژوند کښې يو تر ټولو ارزښتمن فکتور ښودلے دے.« د ټولنپوهنې له نظره، ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې د ګډ کار او توليد په ترڅ کښې د ټولنيزو اړتياوو د پوره کولو پ منظور مينځ ته را غلې ده. د ټولنپوه په عقيده، ژبه د ټولنې محصول ده او د ژبې موجوديت له ټولنې څخه د باندې نشي تصور کېدے.»( ۵: ۸م)

دا چې ژبه يوه ټولنيزه پديده ده او د ټولنيزو مناسباتو په ترڅ کښې زده کېږي او د همدې ټولنيزو مناسباتو له امله يوه ژبه له بلې ژبې څخه متاثيره کېږي او د وخت په تېرېدو سره

* Assistant Professor, Academy of Sciences Kabul Afghanistan

پکښې بدلونونه را منځته کېږي یا داچې د همدې ټولنیزو اړیکو او مناسباتو له امله په یوه ژبه کښې بېلابېلې لهجې او لهجوي توپیرونه را منځته کېږي.

څرنګه چې د وخت په تېرېدو سره د انسانانو په ټولنیز ژوند کښې بېلابېلو ټولنیز، اقتصادي، جغرافیوي او داسې نور بدلونونه رامنځته کېږي، د همدې بدلونونو له امله په یوه ژبه کښې هم بدلونونه را منځته کېږي. د همدې بدلونونو له ډلې څخه مونږ دلته په ژبه کښې د مورفو فونیمیکي بدلونونو پر ډولونو او لاملونو بحث او څېړنه کوو.

د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د انسانانو په ژوند کښې د ژبې له ارزښت او اهمیت څخه سترګې نه شي پټېدلے، د ژبو ارزښت او اهمیت ته په کتلو سره په نننۍ نړۍ کښې د ژبو د کورنیو او د ژبې په تاریخي تحول باندې بحثونه کېږي او ورځ تر بلې په دې برخه کښې نوي موضوعات را منځته کېږي. دا چې د انسانانو د ټولنیز ژوند له بدلون سره په ژبو کښې هم بدلونونه را منځته کېږي، نو په همدې خاطر دا لیکنه هم مورفو فونیمکي بدلونونو ته ځانګړې شوې ده، مورفو فونیمیکي بدلونو او د هغه ډولونه د مثالونو په راوړلو سره واضح شوي دي او په ژبه کښې د دغسې بدلونونو لاملونه ښودل شوي دي.

د څېړنې موخې

ژبه د انسانانو په ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کښې له بدلون سره سمه بدلون مومي او بېلابېل تغییرات پکښې واقع کېږي، دغه بدلونونه کله کله د یوې ژبې څخه د نورو ژبو یا یوې بلې ژبې د را زېږېدو سبب کېږي، په ژبه کښې دغسې او دې ته ورته بدلونونو باید ساده ونه ګڼل شي وخت پر وخت ئې باید په اړه وضاحتونه ورکړل شي، تر څو په راتلونکي کښې د ځینو اختلافي مسایلو د حل په برخه کښې د نظر یوال را منځته شي او بل داچې دا د ژبپوهانو دنده هم ده چې دغسې موارد تر بحث او څېړنې لاندې ونیسي.

د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کښې لاندې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه شوې ده:

- ✓ مورفو فونیمیکي بدون څه ډول بدلون دے؟
- ✓ ولې په یوه ژبه کښې مورفو فونیمیکي بدولونونه را منځته کېږي ؟
- ✓ د مورفو په نیمیکي بدلونونو د را منځته کېدلو لاملونه کوم دي؟
- ✓ مورفو فونیمکي بدولونونه په څو ډولونو باندې وېشل شوي دي؟

د څېړنې میتود

په دې لیکنه کښې د تشریحي او تحلیلي مېتود ترڅنګ له مقایسوي میتود څخه هم استفاده شوې او د یادو مېتودونو په پام کښې نیولو سره دا څېړنه بشپړه شوې ده.

د موضوع اصلي متن

څرنګه چې مخکښې یادونه وشوه چې د ټولنې د بېلابېلو، ټولنیزو،سیاسي، اقتصادي، کلتوري او جغرافیوي برخو له تغییر سره په ژبه کښې هم تغییرات را منځته کېږي او هغه د لهجې یا لهجو په ترخ کښې را څرګندېږي او مورفو فونیمیکي تغییرات د همدې د ژبې د لهجو په منځ ته راتګ پورې اړه لري. د ژبې څخه د لهجو د مینځته راتګ عوامل په دوو برخو باندې وېشل کېږي.

۱ – د ژبې خارجي عوامل: دا هغه عوامل دي چې د یوې ژبې پورې مربوط خارجي چاپېریال او محیط جوړوي او له تاریخي، جغرافیوي، سیاسي، کلتوري، اقتصادي او داسې نور... عواملو څخه عبارت دي، چې مونږ ئې دلته په اړه بحث نه کوو، ځکه چې په دې اړه بحث کول مونږ له خپلې اصلي موضوع څخه لرې کوي.

۲ – د ژبې داخلي عوامل: دا هغه عوامل دي چې د ژبې په داخل کښې پېښېږي او د ژبې په داخلي چاپیریال کښې لاندې تغییرات او بدلونونه مینځته راځي:

الف – مورفو فونیمیکي تغییرات، ب: فونومیکي تغییرات، ج: لغوي تغییرات (۷: ۱۲م)

الف) مورفوفونیمیکي تغییرات: مورفیم کله کله د خپل چاپېریال یا نورو عواملو د تاثیر له امله بدلون مومي او بېلابېلو شکلونه ځانته غوره کوي. د مورفیم د دغو بېلابېلو بدلونونو نه چې د محیط او چاپېریال په جه ور پېښېږي او دغه رنګه د فمونیمونو داسې نور بدولونونو نه

چې په مورفیم کښې د مختلفو عواملو په وجه واقع کېږي هغه ته مورفو فونیمیکي بدلون وائي.(۸: ۳۶م)

دغه اوښتنې په څپیزو، مورفیمیزو او لغوي چاپېرالونو کښې د هغو فونیممونو تر منځ پېښېږي چې په عین وخت کښې ناخپلواک مورفیمونه هم دي له همدې کبله ورته مورفو فونو لوژیکي اووښتنې وائي. «دغه اوښتنې زیاتره وختونه د مانا د تعیر سبب نه ګرځي، بلکې په دغو اووښتنو کښې فونیمونه د فونیټیکي خاصیتونو له مخې یا سره همرنګې کېږي یا سره اوړي یا په خپلو منځ کښې نا همرنګي ښیي یا همرنګي غړونه یو په بل کښې مدغمیږي او یا هم یو فونیم غورځي، خو ځینې وختونه د ګرامري ما نا د بدلون سبب هم ګرځي، لکه: د (خور) او (خوړ) په وینو کښې چې (خور) د حال زماني ولي(ریښه) ده کله چې تېرې زماني ته اوړي په(خوړ) بدلېږي، یعنې (ر) په (ړ) اوړي. دغسې (اغوند) او (اغوست) له دې جملې څخه دي.» (۳: ۶۲م)

مورفو فونیمیکي بدولون په ځینو ژبو کښې ساده او په ځینو نورو ژبو کښې ډېر پېچلي وي، خو په عمومي ډول په دوه ډوله پېښېږي: یو دا چې کله مورفیم د کوم فونیم په وجه اغېزمن شي او تغییر وخوري، لکه: په انګریزي ژبه کښې چې(s) د جمعې مورفیم دے، کله چې تر غږن اواز وروسته را شي په غږن(z) سره تلفظ کېږي، لکه: (Eggs, Roads, Rooms) کښې، د پورته دریو کلمو په مفرد شکل کښې د پاے اوازونه په ترتیب سره(G,D,M) دي او دغه درې واړه غړونه د غږن اواز څخه وروسته را غلي، نو د غږتیا د اغیزې له مخې(S) په (Z) یعنې غږن ډول ادا کېږي او که چېرته همدغه د جمعي مورفیم (S) تر بې غږه اوازه وروسته واقع شي، نو ئې غږ (S) په (س) تلفظ او اداء کېږي، لکه: د (Roots, Books, Lips) په کلمو کښې چې (P, K, T) اوازونه دي، نو ځکه د جمعي فورفیم(S) اصلي شکل(س) تلفظ کېږي او د خپل مخني فونیم په واسطه بدلون نه مومي. دغه رنګه په پښتو ژبه کښې د (زما – ZMA) او ستا (ستا – Sta) په کلمو کښې (ز) او (س) د مالکیت مورفیم دي، که نوموړي مورفیم تر (م) غږن

فونیم څخه د مخه را شي په (س) یعنې بې غږن اواز سره ادا کېږي، یعنې نوموړے مورفیم د خپل وروستني فونیم په واسطه اغېزمن کېږي او په همدغه سبب بدلون مومي.

مورفو فونیمیکي بدلونونه لاندې پنځه مشهور ډولونه لري:

۱ - همرنګي (اسېمېلېشن **Assimilation**): د مورفو فونیمیکي بدلون تر ټولو مشهور ډول دے او هغه دا چې کوم اواز د ګاونډي اواز د تاثیر له امله د نوموړي ګاونډي اواز سره یو شي یا ورته والي پیدا کړي(اسېمېلېشن Assimilation)ورته وائي. یا هم ویلے شو چې په یوه چاپېریال کښې یو فونیم بل فونیم د فونیټیکي ځانګړنو له مخې ځان په رنګ کړي یا فونیم له بل فونیم څخه فونیټیکي خواص واخلي (اسېمېلېشن Assimilation) ورته ویل کېږي.(۳: ۶۱م)

لکه په سنبله کښې چې(ن) په (م) سره بدلون مومي یا په دري ژبه کښې (یک ګربه) عبارت کښې چې د (یک (ک) په خبرو کښې په (ګ) سره تلفظ کېږي. په لومړي مثال کښې (ن) په (م) سره ځکه بدلون چې د (ن) له څنګه یو شونډیز اواز (ب) را غلے دے او د دغه اواز د تاثیر له امله (ن) هم شونډیز اواز(م) سره اوښتے دے.

په دوهم مثال کښې (ک) یو بې غږه انسدادي اواز دے چې د خپل ګاونډي اواز(ګ) د تاثیر له امله غږن شوے دے.

او یا هم لکه د ارغنداب په کلمه کښې چې (ب) د لومړي توري تر تاثیر له امله په (و) تلفظ کېږي، لکه: (ارغنداب = ارغنداو)، (میر آب = میراو)، (سیلاب = سیلاو) یعنې یو تورے د بل توري تر اغیزې لاندې خپل تلفظ بدل کړي.

همرنګي (اسېمېلېشن **Assimilation**) لاندې ډولونه لري

په عمومي ډول (اسېمېلېشن Assimilation) په دوه ډوله واقع کېږي:

یو دا چې د داسې اواز په واسطه واقع کېږي چې تغییر شوي آواز ترڅنګ واقع وي او فاصله ونه لري، دې ډول متصل (اسېمېلېشن contiguous Assimilation) لکه په (ستا) او (زما)

کښې، يعنې دلته دا کلمې په اصل کښې (دتا او دما) دلته تغييرات په داسې کلمو کښې واقع شوي دي چې هغه د تغيير شوي آواز ترڅنګ واقع دي او ترمنځ ئې نور توري يا غږونه نشته.
دويم دا چې د داسې آوازو په واسطه واقع شي چې د تغيير شوي اواز ترڅنګ نه وي راغلے او يو له بله سره فاصله ولري، يعنې په منځ کښې ئې يو يا څو اوزونه را غلي وي چې دې ډول ته ئې منفصل اسيميليشن (Assimilation Noncontiguous) ويل کېږي. (6، ۱۲م)
د منفصل اسېميلېشن ښه بېلګه دا لاندې کلمې کېدے شي، لکه: د (شمسي) چې په (شمشي) سره تلفظ کېږي او يا لکه د دري ژبې (سرش) په (شرش) سره تلفظ کېږي. په پورته مثالونو کښې د لومړي کلمې وروستي (ش) د لومړي (ش) تر اغېزې لاندې را غلے دے او په دويم مثال کښې بيا لومړے (س) د وروستني(ش) تر تاثير له امله په (ش) سره تبديل شوي او د (س) او (ش) تر مينځ نور فونيمونه هم را غلي دي.
د پورته وېش ترڅنګ په يو بل ځاے کښې (اسېمېلېشن Assimilation) په لاندې ډولونو باندې وېشل شوي دي:
الف) پرمختګي همرنګي (**Progressive Assimilation**) : په دې ډول اسېمېلېشن کښې يو آواز په خپل چاپېريال کښې له مخني آواز سره همرنګي شي، لکه د (منه maṇ a) او (رنا= raṇ ā) په وينو کښې د (زور= a) او (الف = ā) غږونه چې د (ڼ) آواز له ځان سره پزيز کړي دي يا هم لکه په ترکي ژبې د ( Gitdi / Git ti) ( دے ولاړ) دلته وينو چې په Gitdi سره ويل کېږي. (۳: ۶۰م)
ب) پر شاتګي همرنګي ( **Regressive Assimilation** ):په دې ډول اسېمېلېشن کښې يو آواز د وروسته آواز د اغېزې لاندې را شي او د هغه په رنګ شي، لکه: (پومبه = Pumba) او (تمبه = tamba)په وينو کښې چې په اصل کښې ( پونبه = Punba) او (تنبه = tanba) او يا لکه تمباکو(tambāko)چې په اصل کښې تنباکو(tanbāko)دي، د (ب = B) غږ د اغېزې له کبله چې غبرګشونډيز غږ دے، د (ن = n) فونيم چې يو غاښيز فونيم دے، د غبرګشونډيز کېدل، يعنې د تلفظ په وخت کښې( م = m) ته نږدې تلفظ کېږي يا بېخې په ( م = m)چې دا هم يو غبرګشونډيز فونيم اوړي...)

ج) ګاونډه همرنګي ( Neighbor Assimilation ): په دې ډول همرنګي کښې يو آواز په خپل چاپېريال کښې له خپل (مخکني يا وروستني) آواز سره همرنګي پيدا کړي. له مخني سره، لکه د (ماما = māmā) په ويي کښې د (م = m) د اغېزې له کبله چې يو پزيز غږ دے د ( الف = ā) واول پزيز کېدل او له ورستني فونيم سره، لکه د (تنبل = tanbal) په ويي کښې د (ب = b) فونيم چې يو غېرګشونډيز فونيم دے د (ن = n) فونيم چې يو غاښيز غږ دي شونډيز کېدل.
او يا لکه د (شب پرک) کلمه چې په (شوپرک) سره تلفظ کېږي. يعنې په دې کلمه کښې هم (ب) خپل مخکني ګاونډي تورے (ش) تر اغېزې لاندې په (و) سره تغيير شوے دے، همدارنګه د (ارغنداب) په کلمه کښې چې (ب = B) د مخکني الف تر اغېزې لاندې په (و) سره ، يعنې (ارغنداب) په (ارغنداو) سره تلفظ کېږي.
د ) ناګاونډه همرنګي ( Disneighbor Assimilation ): دا هغه ډول همرنګي ده چې په يوې څپې، ګړ (ويکي) يو اواز د يو داسې مخکني يا وروستني اواز سره همرنګي شي چې په ګاونډ کښې ئې نه وي. په دې کښې هم پرمختګي او پر شاتګي نا ګاونډه همرنګي شته، لکه:
د پرمختګي نا ګاونډې همرنګي بېلګه، لکه: نونس (nunas) په ويي کښې چې په اصل کښې نولس ( nulas) دي، د لومړي (ن = N) د اغېزې له کبله چې يو غاښيز غږ دے. د (ل = l) فونيم چې يو (اوريز، اوبلن، غږن) غږ دے، غاښيز او پزيز کېدل يعنې بيخي په (ن = N) اوښتل پر شاتګي ناګاونډې په اصل کښې (ډېر = deri) دے، څکه چې دغه ستاينوم له (ډېر = der) کړول څخه د لنډې (ي = i) د لومړۍ څپې اوږده (ې = e) له ځان سره همرنګي کړې ده، يعنې د منځوال واول څخه يې د خپل ځان په رنګ په لوړ واول اړولې ده.

۲ - ناهمرنګي (Dissimilation)

چې په يوه ژبني چاپېريال (څپې، ګړ، ويي) کښې همرنګه آوازونه سره ناهمرنګه شي، لکه د (زما =zmā) په ويي کښې په اصل کښې (دما = damā) دے، د (د =d) غږ چې يو غاښيز تم غږ دے په (ز =z) چې يو اوريز موښلے فونيم دے اوړي په دې توګه د خولې ييزو تمو غږونو يعنې (د) او (م) پرلپسې والے ختمېږي او د (ز =z) او (م) ترمنځ ناهمرنګي رامنځته کېږي، يعنې

موښلي (ز) له پزيز(م) سره د کلمې د سرکلستر جوړوي او يا هم د (لمونځ) په ويي کښې چې له آره(نمونځ) دے د نوموړې کلمې لومړنے(ن=n) په (ل=l) اوړي په دې توګه د پزيزو کانسونټونو تسلسل ماتېږي او ناهمرنګي رامنځ ته کېږي، يا لکه: (ناړي= لاړي)، دلته هم د ناړې کلمه په لاړې په باندې تلفظ کېږي.

بايد ووايو چې ناهمرنګي هم پرمختګي او شاتګي، ګاونډه او ناګونډه کېدے شي.(۳: ۶۲م)

۲- ناهمرنګي (ډسېمېلېشن Dissimilation): د مورفوفونيميکي بدلونونو څخه يو مشهور ډول دے او هغه دا چې کله کله په يوه ترکيب يا کلمه کښې يو اواز دوه ځايه مکرر واقع کېږي. که چېرې نوموړے اواز له نوموړو دوو ځايونو څخه په يوه ځاے کښې په يو بل اواز سر بدلون ومومي، دغې عمليې ته ډسېمېلېشن وائي. لکه نمونځ او لمونځ په کلمو کښې د (ن) بدلون په (ل) سره.يا لکه، د (ږيره = ګېره) په کلمو کښې، يا هم د (يواځې= يوازي)، (ځلمے = زلمے)، (ختيځ = ختيز)، (لوېديځ = لوېدز)، ( افسوس، افسوز) او داسې نور...

۳- قلب(Metathesis): د مورفو فونيميکي بدلونونو څخه يو بل قسم بدلون ته قلب وائي او هغه دا دے چې د کلمو د فونيمونو په ترتيب کښې بدلون مېنځ ته راځي. لکه ځمکه او مځکه، ورځ او روځ، لوېشت او ولېشت، (ږغ= غږ)، ښکته = کښته)، (پسرلے = سپرلے)، (زمرے = مزرے)، ( ښکلے= کُښلے)، ( کښل، ښکل)

۴- زياتېدنه(Addition): د فونيمونو زياتوالے هم په مورفو فونيميکي بدلون کښې شمېرل کېږي او هغه بدلون ته وائي، چې په يو ژبني چاپيريال (مورفيم، کلمه) کښې يو اواز هسې د يوه خواږه اهنګ په توګه زيات شي بې له دې چې کوم مورفو فونيميکي بدلون په کښې پېښ کړي. لکه په (مونږ او مونږ)، (چمن او چمند)، (سين او سيند)، (ارمان او ارماند)، (درون او دروند)، (صحتمن = صحتمند)، (مګر= منګر)، (لار، ليار) او داسې نور..

۵- کمېدنه(Omission): غورځېدنه يا کمېدنه هم يو ډول مورفو فونيميکي بدلون بلل کېږي، هغه دا چې له يوې کلمې يا مورفيم څخه يو اواز وغورځي او کم شي. لکه څلوېښت او

څلوېښ، (دېرش او دېش)، (ارزښتمند او ارزښمن)، (بخښل او ښنل)، (نخښه او نښه) او داسې نور.

ب: فونیمیکي تغییرات: د ژبې په داخلي چاپیریال کښې د تغییراتو له جملې څخه یو هم فونیمیکي تغییرات بلل کېږي، چې لاندې ډولونه لري:

۱- د واولونو تغییر یو تر بله په خپل مینځ کښې. لکه د مور (Mor) او میر (Mer)، کال، کول غو (Go) او غوا (Gwa) په کلمو کښې د (ا- و- ي) تغییر، یو پر بل باندې.

۲- د کانسونټونو تغییر یو پر بل باندې، لکه د سرش (Sarash) چې ځینې یې شرش (Sharash) تلفظ کوي، چې دلته د (س) غږ په (ش) غږ باندې بدلېږي.

۳- د کانسونټونو بدلون په واولونو باندې. لکه په ویده (Wida) او بیده (Bida) کلمو کښې.

همدارنګه باید ووایو چې د ژبې په داخلي چاپیریال کښې یو شمېر فونیمیکي تغییرات په مختلفو لهجو کښې د مختلفو عواملو له کبله مینځ ته راځي، چې په لاندې لښتلیک کښې دغه تغییرات یا بدلونونه له ورایه ښکاري.

ج: لغوي تغییرات (Lexical Changuag): د ژبې په داخلي چاپیریال کښې یو شمېر لغوي تغییرات د ژبو په مختلفو لهجو کښې د مختلفو عواملو له کبله مینځته راځي. لکه مړی، ډوډی، ټیکله. (۷: ۱۵م)

کله وخت چې د پښتنو بېلابېلې لهجې، چې په دا وروستیو کښې د افغانستان د علومو اکاډمي د څېړونکو په مرسته را ټولې شوې او په شپږ ټوکه کښې چاپ شوې هم دي، تر نظر تېري شي، دغه تغییرات په ښه شکل ورته څرګند ېږي، دلته زمونږ ورباندې ډېر بحث ځکه نه کو، چې د دې لیکنې له اصلي موضوع سره که څه هم اړیکه لري، خو دا بیا یو بېل بحث کېدي شي، چې کېدے شي د په یوه ژبه کښې د لهجو یا لهجې منځته راتګ ورته وویل شي او دا موضوع باید په ځانګړي او بېل شکل تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي.

پایله

ژبه یوه ټولنیزه، اکتسابي او قراردادي پدیده ده، د ټولنې اوسېدونکي ئې یو له بل سره د پوهولو او را پوهولو لپاره کاروي. د ژبې د بېلابېلو مسائلو څېړل د ژبپوهنې کار دي، ځکه: ژبپوهنه Linguistics هغه علم دے، چې د ژبې ماهیت او څرنګوالے دعلمي او معاصرو میتودونو پر بنسټ مطالعه کوي او د بېلابېلو ژبو کورنۍ، د هغوي یو تر بله اړیکښې او تاریخي تحولات ډلبندي او تشریح کوي. څېړونکي ته ئې ژبپوه (languist) ویل کېږي. ژبه د انسانانو د اړیکو نظام او د پوهونې وسیله ده چې مطالعه ئې له څو پېړیو راهیسې پیل شوې او تقریباً په دې وروستیو کښې د یو مستقل علم په توګه (ژبپوهنه) منل شوې او په بېلابېلو څېړنیزو زمینو او لیدلورو کښې ئې لمن پراخه شوې ده.

د ژبپوهانو د څېړنو له مخې د وخت په تېرېدو سره، د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او کلتوري بدلونو له امله په ژبو کښې بېلابېلې لهجې مینځته راځي او په ژبه کښې تغییرات را رامنځته کېږي. په ژبه کښې دغه تغییرات داخلي او خارجي لاملونو لري، خارجي لامل ئې تر ډېره د ژبې په خارجي چاپېریال او محیط پورې اړه لري او داخلي عوامل هغه عوامل دې چې د ژبې په داخلي چاپېریال کښې را منځته کېږي چې تر ډېره په مورفو فونیمیکي، فونیمکي او لغوي تغییراتو پورې اړه لري او په مختلفو ډولونو باندې وېشل شوي دي.

وړاندیز

څرنګه چې د وخت په تېرېدو سره د بېلابېلو ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي لاملونه له امله په یوه ژبه ئې بدلونونو نه رامنځته کېږي او ځینې لغتونه ئې بېل بېل شکلونه ځانته غوره کوي، ځینې وخت دغه توپیرونه په لیکنو کښې هم تر سترګو کېږي او د یو ډول ګډوډۍ سبب کېږي؛ د ژبپوهنې د مسلک پوهانو ته وړاندیز کېږي چې د دغسې ګډوډیو د مخنیوي په اړه دې د ژبې دغه ډول بدلونونو ته پاملرنه وکړي، د مقالو او کنفرانسونو له لارې دې لیکوالان متوجه کړي، تر څو په خپلو لیکنو کښې متحدوالے وساتي او په راتلونکي کښې د

یوې بلې ګډوډۍ مخه ونیول شي، ځکه که چېرته دې موضوع ته پاملرنه ونه شي، نو کېدے شي د هرې سیمې اوسېدونکي به کوښښ کوي هغه څه ولیکلي، څرنګه چې ئې تلفظ کوي او په دغسې کړنې سره به یوه ژبه په ډېر لیکدودونه سره ووېشل شي او د یوه متحد لیکدود را منځته کول به بیا ډېر ستونزمن او له کړاوونو ډک وي.

## مأخذونه

1. چمتو، محمد قسیم. تشریحي ژبپوهنه (دویم چاپ)، کابل: جهان دانش خپرندوي ټولنه، ۱۳۹۶ ل

2. خویشکي، محمد صابر. پښتو غږپوهنه او ویېپوهنه، دویم چاپ، کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۹۴ل.

3. رښتین، صدیق الله. پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه(دویم چاپ)، پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز ، ۱۳۸۳ل.

4. روهي، محمد صدیق. د ژبښوونې مسألې، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو علمي مرکز، کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۶۱ ل.

5. شاکر، نور احمد. ژبنۍ څېړنې، کابل: د پوهنې مطبعه، ۱۳۵۰ ل.

6. غوربندي، میراجان. ګړدود (لهجه) پوهنه، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۵ ل کال.

7. نیازي، رفیع الله. د اندو - اریایي ژبو نَسبي څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۸ ل.

8. هلالي، عبدالحکیم. د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبا لاربود ، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۵ل کال

**Refrences**

1. Chamto, Muhammad Qaseem. Tashrehi zhabpohanah(dawyam chap), Kabul, jahan Danish khaparandoya Tolanah, 13۹۶L.
2. Khishkay,Muhammad Sabir. Pashto masar grammar(dwayem chap), Kabul: jahan Danish khaparandoya Tolanah,1397L.
3. Rashtin, Sadiqullah. Pashto Eshtiqaquna aw tarkeebuna(dwayem chap): peshawar: da pashto cerano aw prakhtya markaz, 1383 L.
4. Rohi, Muhammad sadiq. Da zhabshowani masala, da Afghanistan da ulumo academy da zhabo aw adabyato markaz, Kabul: Pashto Tolanh,1361 L.

5. Shaker, noor ahmad. Zhbani ciraney, Kabul, da pohani mutbah. 1350 L
6. Chorbanday, mirajan. Gardood(Lahjah) pohanah, Kabul: jahan Danish khaparandoya Tolanah,1395L.
7. Niazay, rafullah. Da indo Eurupaee zhabo nasaby cirana,Kabul, da Afghanistan da ulumo academy da etlaato aw amah ariko riyasat, 1397L.
8. Hilali, Abdulhakem. Da Pashto zhabi da fonimik alfuba larshod, Kabul: Pashto Tolanah.1355 L.